www.goftaman.com

**نورمحمد غفوری**

بې لــــه تانـــه د جـنت پـــه لـــــوري نـــه ځـم

بې لــــه تانـــه د جـنت پـــه لـــــوري نـــه ځـم
که دوزخ وی، خو جوړه به درسره ځم

دا ځـــــه نــــوې خـــبر نـــه ده نـازنینې
هـا پـخـپلـــــه پـخـوانی مـــواعده ځم

چې د عشق په اورکې سوی تک تور سکور یم
هـــــمدا لاره مې ده لـویه فـریضه ځم

د رقیب لــــه تـهمـتونـــو مې بـاک نـشـــته
زه پـــخپله کـره لار، غـره غـره ځم

ځو ژوندی یم، ځوچې ساه مې ځان کې ښوري
دا د عشق او عاشــقانو پـه نعـره ځم

بل مې هـیڅوک رهـنما او رهــبر نشـــتـه
بس د مینې پـــه فـــرمان او رائحـه ځم

ماچې ځـــان د خپل وطن لـــه پـاره وقـف کړ
پښیمان نه یمــــه، همدا مې ګـزینه ځم

زمـا ځـواک کـمـزوری مـــه بولـــه رقیبـه
تنـــها نـــه ځم د ملګرو مجموعه ځم